# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
| --- | --- |


پیشرو خپرونه ۴۵ گڼه

۲۵ نومبر ۲۰۱۲

## ورزش د ګلاډیاتورانو جګړه که د ولسونو د پیوستون وسیله؟

په اوسني عصر کې ورزش د واکمنو طبقو په لاس کې هغه وسیله ده چې د ولسونو او په خاصه توګه د کارګرانو او زیارکښو پرګنو تر منځ واټن ډیروي. ورزش د انسانیت، وروروګلوي، مینې او پیوستون په ځای د کمپنیو او پانګوالو دولتونو په لاس کې هغه سوداګریزه وسیله ده چې د ونډو په نړیوالو مارکیټونو کې لوبغاړي (د مراډونا په وینا ورزشي کارګران) یې خرڅیږي او اخیستل کیږي.

په اوسنۍ نړۍ کې چې زبیناکګر او ښکیلاکګر هیوادونه، ارزښت په پیسو بیانوي، زرګونه لوبغاړي هره ورځ په دې بازار کې د بیلابیلو هیوادونو او کمپنیو او کلبونو لخوا پیرل کیږي او خرڅیږي. ورزشکاران د دې پر ځای چې ورزش د پیوستون، دوستۍ او یووالي وسیله وګرځوي، په وحشیانه لوبو سره میدانونه پاروي او د کمپینو سوداګرۍ غوړوي.

ورزش، که څه هم طبقاتي بڼه نه لري، خو طبقاتي وسیله ګڼل کیږي. څرنګه چې یادونه وشوه اوسنۍ واکمنې طبقې له ورزش څخه د بیلابیلو موخو لپاره کار اخلي: د زیارکښو طبقو تر منځ د واټن زیاتول، د ولسونو تر منځ د کرکې راپارول، توکمیزو توپیرونو ته لمن وهل، د پرګنو بوختول او د ښکیلاکګر او زبیناکګر سیاستونو دودول.



تامي سمیت او جان کارلوس چې د ۱۹۶۸ کال په المپیک کې په منډه کې مډالونه تر لاسه کړي وو، پښې یبلې او د تورو دستکشو سره چې په امریکا کې د تورپوټکو د بیوزلۍ سمبولیکه انځورنه دي، د بریا په څوکې په موټي شویو لاسونو د توکم پالنې په وړاندې اعتراض وکړ چې د دې کار لپاره یې ان کورنۍ هم په مرګ وګواښل شوې، خو په بدل کې یې دغه دواړه د ولسونو په واقعي اتلانو بدل شول.

د اسپانیا مشهور دیکتاتور جنرال فرانکو څخه وپوښتل شول چي په سختو شرایطو کي د هغه د واکمنتیا د بریا راز په څه کي نغښتی دی، ویې ویل: «د واکمنۍ رموز دومره هم پیچلی او ستونزمن نه دی. زه د دې کار لپاره له درې اغیزناکو وسیلو څخه کار اخلم: ۱- خبر جوړول او شایعات او د جنجالي خبرونو خپرول، ۲- د ورزشي سیالیو پرله پسې جوړول، په خاص ډول د فوټبال سیالۍ، ۳. د مبتذلې موسیقۍ د دودولو لپاره هر اړخیزه مرسته او د کنسرتونو جوړول. دا درې وسیلې د سلګونو میلیونو انسانانو، مخالف او موافق، وخت او فکر مصروف ساتي او دولت خپل کار ته ادامه ورکوي.»

د افغانستان اوسني شرایط د جنرال فرانکو د واکمنې رموز په ښه توګه بیانوي. بهرني لوټمار او ستمګر په درې یادو برخو کي بوخت او مصروف دي. د مبتذلې موسیقۍ دودول او د ورزشي سیالیو پیل، هغه دوه مهم عوامل دي چي د بهرنیانو په ډالرو او د دولتي چارواکو په ملاتړ د استعمار په چوپړ کي د زرګونو ځوانانو او پیغلو فکري بوختیا جوړوي. بهرنیان د بیلابیلو ستو له لارې، په میلیونونه ډالره د ارتجاعي، تسلیم پالي او مزخرفي موسیقۍ لپاره لګوي او د کنسرتونو لړۍ غوځیدو ته نه پرېږدي. همدا ډول میلیونونه ډالره د سپورت او ورزش په بیلابیلو برخو کي لګول کیږي، او د لوبو اتلان یې ډیر ژر د استعماري سیاستونو د دودولو په «اتلانو» بدلیږي او یا هم د جنایت سالارانو په سیاسي تبلیغ کي ونډه په غاړه اخلي.

د افغانستان ورزش، د بهرنیو او افغان چارواکو په منګولو کي ښکیل دی. زموږ ورزش د پیوستون، اعتراض او د ولسونو د هیلو او غوښتنو د پیغام ورکولو پر ځای، د بهرنیو سیاستونو په چوپړ کي په هغه سوداګریزه وسیله بدلیږي چي لوبغاړي یې د بردګۍ دورې ګلاډیاتورانو سره ورته والی مومي. دلته میدانونه او رینګونه د ولولې په ډګر بدلیږي، یوازې د دې لپاره چي د یو اس ای آی ډي پروژه پلې شي، د دې لپاره چي د ستمګرو جنایتونو ته د ځوانانو او پیغلو پام ونګرځي، د دې لپاره چي اوسنی بهرني پلوه دولت خپل کارونه مخي ته بوځي.

دلته په میدانونو کي ګلاډیاتوران لوبیږي، او پر لوڅ ناست د کمپنیو مدیران خپله سوداګري کوي؛ بیلابیلې کمپنۍ د لوبغاړو د خولو، قهر، راغورځیدلو او سر ماتوني په منځ کي خپل محصولات تبلیغوي او تلویزیوني شبکې هم په چیغو او د لوبې په جالبه کولو سره د تبلیغاتو بازار انحصاري کوي.

لیګونه او سیالۍ د پیوستون او انساني ارزښتونو له منځپانګې تش دي؛ دا یوازې د ښکیلاکي سیاستونو د تبلیغ لپاره د «اتلانو» موندل دي چي ژر د «سولې» او د دې ځیز او هغه ځیز په سفیرانو بدل شي او دلته هلته له امریکا او «نړیوالې ټولنې» څخه د مننې اظهار وکړي چي فرصتونه یې ورته چمتو کړي دي!!!

لا سپورتي لوبغاړی د بریا له څوکۍ راښکته شوی نه وي چي کورني خاینان او لوټماران ورته په تمه ناست وي، څو د خپلو سیاسي موخو لپاره یې وکاروي. د ارګ ماڼۍ یې هڅوي، جهادیان یې نازوي او کمپنۍ یې په پیسو پیري او قومي سوداګر یې د قوم په تله کي تلي. دلته ورزش یعني سیاست او هغه هم ارتجاعي سیاست.

ورزشکاران کولای شي د ولسي او پرمختللي سیاست لپاره اغیزناکه ګامونه پورته کړي، د ولسونو اعتراضي ژبه ووسي او د زیارکښانو د پیوستون استازي. د ښکیلاکګرو جنایتونه بربنډ کړي، خپل لاسونه موټي کړي او د ولسونو په تلپاتي اتلانو بدل شي. ښایي زموږ لوبغاړي، سپورت د تفریح، روغتیا او پیوستون لپاره وکاروي، او دا کار یوازې هغه وخت شوني دی چي سپورتي لوبغاړي خپله ګلاډیاتوري پای ته ورسوي.